**کلفورنیا پوهنتون، سان فرانسپسکو**

## د څېړنې ګډونوال

# د حقونو لایحه

لاندې د هغو کسانو لپاره حقونه په ګوته شوي دي چې په یوه څېړنه کې د ګډون غوښتنه ترې شوې وي. په څېړنه کې د یو ګډونوال په توګه تاسو لاندې حقونه لرئ:

1) تاسو ته باید وویل شي چې څېړنه د څه په لټه کې ده،

2) تاسو ته باید وویل شي چې ستاسو سره به کوم فعالیت ترسره شي او ایا دغه پروسیجرونه، درمل یا وسایل له هغو سره توپیر لري چې په معمولي ډول استفاده ورڅخه کېږي که څنګه،

3) تاسو ته باید د هغه مکررو او/یا مهمو خطرونو، جانبي عوارضو یا هغو اندېښنو په اړه وویل شي چې د څېړنېزو موخو د ترسره کېدو له امله رامنځته کېږي،

4) تاسو ته باید دا وویل شي چې په څېړنه کې د ګډون له امله کوم امتیاز درکول کېږي که نه، که وي نو دا امتیاز به څه وي،

5) تاسو ته باید د نورو هغه انتخابونو په اړه وویل شي چې تاسو يې لرئ او دا چې دغه انتخابونه به په څېړنه کې ستاسو د شتون اړوند ښه انتخاب وي که بد،

6) تاسو ته باید په څېړنه کې د ګډون له توافق وړاندې او د څېړنې پر مهال د څېړنې په اړه د پوښتنو کولو اجازه درکړل شي،

7) تاسو ته باید دا وویل شي چې د ستونزې راولاړېدو پر وخت کومې طبي درملنې ته لاسرسي لرلای شئ ،

8) تاسو ته باید وویل شي چې کولای شئ په څېړنه کې خپل ګډون رد کړئ یا د څېړنې له پیل وروسته د خپل ګډون په اړه فکر بدل کړئ. دا چې د نه ګډون دغه پرېکړه به ستاسو پر دغه حق اغېز ونه کړي چې د ګډون نه کولو په صورت کې هم هماغسې د روغتیايي پاملرنې خدمات ترلاسه کولای شئ چې په څېړنه کې د ګډون کولو په صورت کې مو ترلاسه کول،

8) تاسو باید د یوې لاسلیک شوي او نېټه لرونکي رضایت فورمې کاپي ترلاسه کړئ،

10) تاسو باید په څېړنه کې د ګډون کولو په اړه د فکر کولو پر وخت تر فشار لاندې نه یاست.

ستاسو د څېړنې ډاکټر به درته ووايي چې ایا دغه څېړنه د خوړو او درملو اداري (FDA) لخوا تنظیم شوې ده که نه. که څېړنه د ایف ډي اې لخوا تنظیم شوې وي، نو د خوړو، درملو او سینګار توکو اړوند فدرالي قانون (FDA&C قانون) له مخې ښايي FDA د څېړنې څارنه وکړي او په څېړنه کې ستاسو د ګډون ټول اړوند سوابق کاپي کړي.

---

که په دې اړه نورې پوښتنې لرئ، باید له څېړونکي یا د څېړنیزو چارو له مرستیال څخه پوښتنه وکړئ. پر دې سربېره، کولی شي د بنسټونو د بیاکتنې له بورډ (IRB) سره؛ چې په څېړنیزو پروژو کې د ګډونوالو خوندیتوب ته پاملرنه کوي، اړیکه ونیسئ. له IRB سره د اړیکې نیولو لپاره: له دوشنبې څخه تر جمعې د سهار له 8:00 څخه د ماښام تر 5:00 بجو پورې په (415) 1814-476 شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه پتې ته لیک واستوئ؛ UCSF، د بشري څېړنو د خوندیتوب پروګرام، پوسټ بکس شمېره 1288,490 الینوس سړک، 6م پوړ، سان فرانسیسکو، کالفورنیا 94158 او یا دغه پتې ته برېښنالیک واستوئ .irb@ucsf.edu

د ژباړې په اړه د معلوماتو لپاره (415) 1814-476 شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه پتې ته برېښنالیک واستوئ .irb@ucsf.edu